# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

خوارلسم کال، ۱۶۰ گڼه د ۱۳۹۹ د تلې میاشت




د نړیوال بانک مرسته د هېواد د مالي او بانکي سکتور بنسټونه ټینگوي



له نمایندگۍ پرته بانکي څانگې؛ په هېواد کې د مالي
او بانکي خدمتونو د پراختیا پر لور یو ستر گام



خطرات ناشی از ویروس کرونا روی فعالیت های بانکی و راه های بیرون رفت



توجه به سکتور زراعت؛ توجه به اقتصاد کشور

## بیرق ملی، سرود ملی و پول ملی از جمله ارزش های ملی ما هستند

## ملي بيرغ، ملي سرود او ملي پيسې زموږ د ارزښتونو له ډلې څخه دي

## ملی بَیرق، ملی اَشوله و ملی پول، ملی ارزشلریمیز دیرلر







## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینۍ خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانك یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او په دې برخه کې ټول فعالیتونه غیر قانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، د افغانستان بانک له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي.



## د دې ګڼې مطالب


د نړیوال بانک مرسته د هېواد د مالي او بانکي سکتور بنسټونه ټينګوي

خطرات ناشی از ویروس کرونا روی فعالیت های بانکی و راه های بیرون رفت

د نړۍ تر ټولو بډایه ستر بانکونه

له نمایندګۍ پرته بانکي څانګې؛ په هېواد کې د مالي او بانکي خدمتونو د پراختيا ...

توسعهٔ فردی؛ ضرورت و نیاز همه

توجه به سکتور زراعت؛ توجه به اقتصاد کشور

که له تقاعد وروسته ښه ژوند غواړئ؛ سپما وکړئ

وضعیت اقتصادی جهان

سوله او د هېواد پر اقتصادي وضعیت یې مثبت اغېز

تدویر برنامه آموزشی برای عده صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی کابل

رشد سریع اقتصاد آلمان، از میان خاکستر جنگ جهانی دوم

تدویر برنامه آموزشی برای صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی کندهار



بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank



## پیام سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک

- دست یافتن به رشد اقتصادی متوازن، پایدار و رسیدن به خودکفایی مستلزم ایجاد بستر مناسب و مساعد مانند تأمین و حفظ ثبات اقتصاد کلان (ثبات قیمت ها، انکشاف پایدار، حفظ و توسعه زیربنا های اقتصادی، سلامت و مصونیت نظام مالی و بانکی) می باشد.
- د افغانستان بانک به عنوان بانک مرکزی کشور با تمرکز روی ثبات قیمت های داخلی که هدف عمده اش را تشکیل میدهد، سیاست ها و عملکرد های خود را بگونه طرح و به منصه میگذارد که اقشار مستضعف و آسیب پذیر جامعه را مورد حمایت قرار دهد.

---

- متوازنه، باثباته او دوامداره اقتصادي وده او پرمخ‌ځان بسیاینه هغه وخت شوني ده چې د لوی اقتصاد د ساتلو لکه د بیو ثبات، دوامداره پرمختګ، د اقتصادي بیخ بنسټونو ساتل او پراختیا، د مالي او بانکي نظام خوندیتوب او سلامتیا لپاره یو مساعد او مناسب چاپیریال رامنځ ته شي.
- د هېواد د مرکزي بانک په توګه، د کورنیو بیو د ثبات ساتل چې د بانک له بنسټیزو موخو څخه دي، د افغانستان بانک د مهمو دندو په ډله کې راځي. دې بانک خپل سیاستونه او کړنلارې داسې طرحه کړي چې په پلي کېدو سره یې د ټولنې د کمزورو او ډېر زیانمنو وګړو ننګه او ملاتړ کیږي.






# د نړیوال بانک مرسته د هېواد د مالي او بانکي سکتور بنسټونه ټینګوي

د افغانستان د مالي سکتور د پیاوړتیا او اقتصادي رغښت په موخه د نړیوال بانک د سلو میلیونو امریکایي ډالرو مالي مرسته د افغانستان د مالي او بانکي سکتور بنسټونه ټینګولای شي او دې برخې ته پرمختګ ورکوي.

د نړیوال بانک مدیره پلاوي په افغانستان کې د مالي سکتور د ثبات او له کوچنیو سوداګریزو فعالیتونو څخه د ملاتړ لپاره ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالره نوې مالي مرسته تصویب کړه. تمه ده چې دا مرسته به په هېواد کې د کووید- ۱۹ ویروس له ناوړه اقتصادي اغېزو څخه د را وتلو په برخه کې ګټوره تمامه شي او د افغانستان د اقتصادي رغښت په برخه کې به مرسته وکړي.

نړیوال بانک او د نړیوالې پراختیا اداره دا ډول مرستې له بېوزله هېوادونو سره کوي. د دې ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو د مرستې موخه د افغانستان د مالي سیستم د پیاوړتیا پروژې له لارې د افغانستان بانک د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې او د مالي مقرراتو په تطبیق کې د دې بانک د څارونکي رول پیاوړی کول او په دې برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کول دي.

د افغانستان بانک د هېواد مرکزي بانک

»

دی چې د نورو اساسي دندو تر څنګ پر بانکونو او د مالي خدمتونو پر وړاندې کوونکو ادارو د چارو د څارنې او د قوانينو د تطبيق دنده پر غاړه لري. له دافغانستان بانک سره دا ډول مرستې به یاد بانک په خپلو دندو کې لا پیاوړی او په ټوله کې به د افغانستان د اقتصادي رغښت او مالي نظام د پیاوړتیا لامل وګرځي.

همدارنګه دا پروژه له افغانستان سره مرسته کوي چې د بیمې لپاره د تضمین سیستم رامنځته کړي، د پورونو او عامه اعتباراتو ثبت او د وثایقو او رهني حقوقو د ثبت پروسې پیاوړې کړي او په د افغانستان بانک کې د معلوماتي تکنالوژۍ یو پیاوړی او پرمختللی سیستم منځته راوړي چې په بانکونو او نورو اړوندو مالي ادارو کې د معلوماتي تکنالوژۍ د پرمختللو سیستمونو رامنځته کول او د مالي چارو د پرمخ بیولو لپاره د آسانیتاوو په برابرولو کې مهم رول لري.

په همدې ډول د بیمې لپاره د تضمین سیستم رامنځته کول به خلک دېته وهڅوي چې خپل څانونونه او شتمنۍ بیمه کړي او له دې لارې، د خپل ژوند په اوږدو کې له زیاتو آسانیتاوو برخمن شي. همدارنګه د اعتباراتو، وثایقو او رهني حقوقو د ثبت د پروسو پیاوړې کول په مالي او بانکي چارو کې ډېرې آسانتیاوې رامنځته کولای شي.

> د افغانستان د مالي سکتور د پیاوړتیا او اقتصادي رغښت په موخه د نړیوال بانک د سلو میلیونوامریکایي ډالرو مالي مرسته د افغانستان د مالي او بانکي سکتور بنسټونه ټینګولای شي او دې برخې ته پرمختګ ورکوي.

دا مهال په افغانستان کې له نیمايي زیات کوچنی او منځنی تشبثات او سوداګریز کارونه د کمزوري اقتصادي سیستم، د کوویډ-۱۹ ویروس د خپرېدو له امله د

قرنطین د اقدامونو او د کړکېچن امنیتي او سیاسي وضعیت له کبله له ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

له افغانستان سره د نړیوال بانک د مرستو دوام د افغانانو په ژوند کې مثبت بدلون رامنځته کړی او دغه مرستې د افغانستان د پراختیایي لاسته راوړنو په ساتنې او پراخېدو کې له بنسټیز ارزښت برخمنې دي.

نړیوال بانک له ۲۰۰۲ کال را په دېخوا د عامه هوساینې، ټول شموله او یوې سوله‌یزې راتلونکې لپاره په افغانستان کې خپلې مرستې او پانګونې ترسره کړې دي.

نړیوال بانک له افغانستان بانک سره په بېلابېلو برخو کې مرستې کړې دي چې د دې بانک لپاره ډېرې ګټورې واقع شوې دي. تمه ده چې له د افغانستان بانک سره به د نړیوال بانک مرستې دوام پیدا کړي او د دې هېواد له ځپل شوي اقتصادي وضعیت سره به مرسته وکړي.●

---

سرچينه:

۱ – ۱۰۰ میلیون دالر کمک جدید بانک جهانی به منظور تامین ثبات سکتور مالی و تسریع روند احیای اقتصادی افغانستان/ ۸ میزان۱۳۹۹

https://www.worldbank.org/fa/news/press-release/2020/09/28/world-bank-100-million-to-stabilize-afghanistans-financial-sector-and-spur-economic-recovery



# خطرات ناشی از ویروس کرونا

## روی فعالیت های بانکی و راه های بیرون رفت



حسیب الله ذکی کارمند مرکز تحلیل معاملات
و راپورهای مالی د افغانستان بانک

**طوریکه میدانیم ویروس کرونا یا کوید ۱۹ خطرات و مشکلات عدیده ای را روی اقتصاد کشورها بجا گذاشته است. در این مقاله در زمینه تأثیرات آن روی فعالیت های بانکی جهان پرداخت صورت گرفته است.**

»

ویروس کرونا چالش های فراوانی را در عرصه های مختلف از صحت گرفته تا اقتصاد، سیاست، فرهنگ و دیگر موارد بوجود آورده است. به همین ترتیب ویروس نامبرده در دو سطح اقتصاد ( کلان و خُرد)، اکثریت کشورها را با چالش روبرو ساخته است.

در سطح اقتصاد کلان، افزایش نرخ بیکاری، افزایش سطح عمومی قیمت ها، کاهش درآمد ملی، کاهش رشد اقتصادی و در نهایت باعث رکود اقتصادی گردیده است. به ترتیب در سطح اقتصاد خُرد، این ویروس چالش‌های جدی را در محیط کسب و کار شرکت ها و کمپنی ها بوجود آورده و باعث رکود فعالیت ها و حتی ورشکستگی تعدادی آنها گردیده است. در کنار آن، شیوع این ویروس کاهش درآمد خانواده ها و افزایش مخارج آنها را به همراه داشته و به تبع آن سبب کاهش رفاه عمومی نیز گردیده است که به این دلیل، ویروس نامبرده در پهلوی بحران صحی، احتمال بحران اقتصادی را نیز برای کشورها به دنبال خواهد داشت.

چون در حال حاضر نظام مالی اکثریت کشورها، بانک محور می باشد، ویروس کرونا عرضه و تقاضای خدمات بانکی را در اکثر کشورها نیز متأثر ساخته و فعالیت آنها را با خطرات احتمالی روبرو ساخته است.

گزارش ریسک جهانی مجمع جهانی اقتصاد (World economic forum) که در ابتدای سال ۲۰۲۰ منتشر شده است؛ در آن ریسک آب و هوا، گرمای زمین، واقعات طبیعی، واقعات محیط زیستی و آسیب های ناشی از آن بالای حوزه های چون اجتماع، اقتصاد، ژیوپولتیک، محیط زیست و تکنالوژی طبقه بندی شده است.

در گزارش متذکره بیشترین احتمال وقوع مربوط به حوزه محیط زیست ( بیولوژیکی یا پزشکی) و بیشترین آسیب در حوزه اقتصاد بررسی شده است. همچنان بر اساس گزارش های بانک جهانی (WB) و صندوق بین المللی پول (IMF)؛ اقتصاد جهان در نتیجه ویروس کرونا رکود اقتصادی که درجه و شدت آن بیشتر از رکود سال ۲۰۰۸ میلادی می باشد، را تجربه خواهند نمود. قرار محاسابات تخمینی، زیان ناشی از ویروس نامبرده بیشتر از ۱۰۰۰ میلیارد دالر امریکایی برای اقتصاد جهانی خواهد بود.

با توجه به آسیب و پیامد های خطر ویروس کرونا روی فعالیت های بانکی، لازم است تا بانک ها محدودیت های بیرونی، واکنش ها، اقدامات احتمالی، تعامل عرضه و تقاضا در بازار را به سرعت درک نموده و برای کاهش تبعات خطر ناشی از این ویروس سیاست های جدید بانکی را اتخاذ نمایند.

برای بیرون رفت از پیامدهای خطر زای ویروس کرونا در فعالیت های بانکی، لازم است تا نظام بانکی کشورها به بررسی و تحلیل آسیب ها و پیامدهای این ویروس بر فعالیت های بانکی خود به ویژه در دوران پسا کرونا بپردازند و راهکارها و میکانیزم های عملی را روی دست گیرند.

قرنطین و تعطیلات ناشی از ویروس کرونا، باعث کاهش معاملات بانکی، افزایش هزینه‌های عملیاتی، کاهش درآمد های بانکی، کاهش فایدهٔ بانکی ( Bank Profitability) گردیده و حتی سبب زیان های مالی برای بعضی بانکها گردیده است. کاهش نرخ ربح بانکی و معوق شدن بازپرداخت قرضه ها باعث کاهش درآمد بانکها گردیده است. به دلیل کاهش فعالیت کسب و کار در ایام قرنطین، بانکها نیز درآمد های ناشی از اعطای قرضه را از دست داده و در ضمن باعث افزایش هزینه های بانکی گردیده است. در صورت تداوم این وضعیت در کشورها، ممکن است نظام بانکی به مشکلات روبرو شود، و به اقتصاد کشورها آسیب جدی وارد نماید.

شرایط عدم اطمینان ناشی از ویروس کرونا، بانکها را به صورت سیستماتیک با انواع خطرات از قبیل: خطر قرضه، خطر بازار، خطر نقدینگی، خطر عملیاتی و غیره. روبرو کرده است. ریسک یا خطر به معنی احتمال محقق نشدن پیش بینی های آینده و امکان وقوع هر نوع خسارات یا زیان ( اعم از مالی و غیر مالی) در نتیجه انجام یک فعالیت است. برخی خطرات ناشی از ویروس کرونا بر فعالیت بانک ها را میتوان به شرح زیر اشاره نمود:

۱. خطر قرضه (Credit Risk): این نوع خطر از احتمال بروز ضرر های ناشی از عدم بازپرداخت و یا بازپرداخت اصل قرضه با تأخیر و تکتانه یا هر دوی آن در نتیجهٔ عدم توانایی مالی و تمایل مشتری بوجود میاید. چون قرنطین ناشی از ویروس کرونا سبب سکتگی در کسب

»

و کارها گردیده و فعالیت های تجارتی را به رکود مواجه ساخته است، بناءً اشخاص ( حقیقی و حقوقی) که از بانک ها قرضه و یا تسهیلات بانکی را دریافت نموده اند، به دلیل از دست دادن کسب و کار و همچنان کاهش فروش محصولات و خدمات خود متأسفانه قادر به تطبیق تعهدات خود برای پرداخت اقساط قروض و نرخ تکتانه بانکی نیستند که این موضوع به نوبه خود باعث احتمال خطر قرضه برای بانکها میشود. همچنان در نتیجه شیوع ویروس کرونا بانک ها از ارائه قرضه های طویل مدت برای کسب و کار های بزرگ ابا می ورزند و در اعطای قرضه های کوتاه مدت و کم حجم و با ریسک پائین نیز با احتیاط شدید برخورد می کنند که این موضوع برای بانکها هزینه فرصتی (Opportunity Cost) را بوجود میاورد.

۲. خطر بازار (Market Risk): خطر بازار عبارت از احتمال بروز زیان های ناشی از نوسانات نرخ های مختلف در بازار از جمله نرخ ربح، نرخ اسعار و قیمت دارایی ها می باشد که پیش بینی ارزش دارایی ها و بدهی ها و همچنین درآمد های ناشی از دارایی ها ( درآمد تسهیلات اعطا شده) و هزینه های بدهی ها ( هزینه تهیه منابع مالی) را تحت تأثیر قرار میدهد. نوساناتی که در قیمت دارایی های مالی ( اسهام شرکت ها، اوراق قرضه و اسعار) و دارایی های واقعی (طلا، نفت و دیگر اقلام) به دلیل شیوع ویروس کرونا بوجود آمده، باعث کاهش کیفیت دارایی ( Asset Quality) بانکها و احتمال خطر بازار برای بانک ها گردیده است.

۳. خطر نرخ مبادله (Exchange Risk): عبارت از احتمال بروز زیان های ناشی از نوسانات نرخ اسعار در فعالیت های بین المللی است که پیش بینی ارزش دارایی ها، بدهی ها، درآمد های ناشی از دارایی های اسعاری ( درآمد تسهیلات اسعاری) و هزینه های بدهی های اسعاری ( هزینه تهیه منابع اسعاری) را تحت تأثیر قرار میدهد. شیوع ویروس کرونا باعث کاهش ارزش پول ملی یک تعداد کشورها گردیده و در نتیجه سبب کاهش ارزش نرخ مبادله آن در مقابل اسعار گردیده که این موضوع احتمال خطر نرخ مبادله را برای بانک ها نیز بوجود آورده است.

۴. خطر نقدینگی (Liquidity): عبارت از احتمال بروز زیان های ناشی از عدم توانایی بانک در تأمین نقدینگی مورد نیاز جهت پرداخت بموقع بدهی ها، ایفای بموقع تعهدات، اعطای تسهیلات و استفاده از فرصت های سرمایه گذاری جهت افزایش دارایی ها می باشد. چالش ویروس کرونا باعث کاهش نقدینگی در بازار های مالی ( بازار پول و سرمایه) شده و توان تسویه پذیری بانک‌ها به دلیل افزایش هزینه‌ها و خطرات مالی علی الرغم تزریق مقطعی منابع مالی محدود به بانک ها توسط دولتها، کاهش پیدا کرده است و احتمال خطرات نقدینگی را برای بانک ها بوجود آورده است. نظر به پیشنهادات کمیته بازل، بانک ها موظف هستند تا فیصدی معین سرمایه خویش را منحیث نسبت کفایت سرمایه نگهداری نمایند، اما شیوع ویروس کرونا باعث کاهش نسبت کفایت سرمایه بانک ها نیز گردیده است.

۵. خطر عملیاتی (Operational Risk): عبارت از احتمال بروز ضرر یک بانک از روند ناکارآ و نامناسب فرایندها و روش ها، افراد و سیستم های داخلی و یا رویدادهای بیرونی میباشد. ویروس کرونا باعث محدودیت های حضور فزیکی مشتریان در بانک، رعایت توصیه های بهداشتی و فاصله گذاری اجتماعی (social distancing)، نیمه فعال نگهداشتن محیط کسب و کار، استفاده از وسایل دیگر ارتباطی مانند ارتباطات تیلفونی و خدمات بانکی آنلاین؛ اجراات بانک ها را به سکتگی مواجه ساخته و مشکلات احتمال خطرات عملیاتی را برای بانک ها بوجود خواهد آورد.

۶. خطر تکنالوژی معلوماتی (IT Risk): چالش کوید ۱۹ باعث میشود که بانکها به سمت خلاقیت و نوآوری، استفاده از تکنالوژی نوین، ارائه خدمات بانکداری به شکل آنلاین روی آورند، اما از طرف دیگر به دلیل کاهش فعالیت های

»

فزیکی و حضوری مشتریان بانک و ضعف مقاومت عملیاتی ( Operational Resilience) دیتابس های مربوطه و ناتوانی ابزار های فناوری برای انتقال سریع به فضای مجازی، زمینه را برای جرایم سایبری و هکر ها مساعد ساخته و احتمال خطرات تکنالوژی معلوماتی را برای بانکها بوجود خواهد آورد.

۷. خطر قانونی و یا حقوقی (Legal Risk): عبارت از احتمال بروز زیان های ناشی از تفسیر و اجرای نامناسب قوانین و مقررات، اشتباهات حقوقی، عدم کفایت و شفافیت قوانین، مقررات و استندرد های موجود برای حل موضوعات حقوقی بانکها و هر نوع تغییر غیرقابل پیش بینی در قوانین، مقررات و استندردها را خطر حقوقی گویند. چالش های کوید ۱۹ باعث عدم اجرای به موقوع تعهدات و قرار دادها میان بانک و مشتریان گردیده، مشکلات و دعاوی حقوقی بین بانک و مشتریان، احتمال خطر حقوقی را برای بانکها بوجود میاورد.

۸. خطر نیروی انسانی( Human Resource Risk): ابتلای تعدادی از کارمندان بانک ها به ویروس کرونا باعث سکتگی در امور یومیه بانک ها گردیده و حتی بعضی از بانکها کارمندان مجرب و کلیدی خود را در جریان ویروس نامبرده از دست داده اند. این موضوع باعث سکتگی در امور کاری بانک ها گردیده و احتمال خطر نیروی انسانی را برای بانکها بوجود خواهد آورد.

برای مقابله با انواع خطرات ناشی از ویروس کرونا در خصوص حمایت بانکها، کشورها اقدامات ذیل را میتوانند روی دست گیرند:

۱. حمایت مالی بانکها مطابق توصیه های از مطالعات موردی کمیته بازل که برای حمایت بانکها در زمان ویروس کرونا و پساکرونا ارائه گردیده است.

۲. افزایش نقدینگی در بازار از طریق ابزار های سیاست پولی

۳. حمایت مالی بانکها از طریق معافیت های مالیاتی و سبسایدی

۴. تعدیل قوانین، مقررات و طرزالعمل ها برای حمایت بانکها

۵. جلب توجه سازمان های مالی و پولی بین المللی مانند صندوق بین المللی پول (IMF) و بانک جهانی (World Bank) برای حمایت و پشتیبانی نظام بانکی.

بانکها نیز برای حمایت بخش های اقتصادی باید اقدامات ذیل را روی دست گیرند:

۱. اعطای قرضه با نرخهای تکتانه کمتر از نرخ قبل از واقعه کرونا برای قرضه گیرندگان؛

۲. تمدید مهلت تسویه قرضه های اعطا شده قرض گیرندگان؛

۳. تمدید اعتبارات بانکی برای مشتریان بانکها؛

۴. به تعویق انداختن مطالبات اقساطی بانکها

۵. ارائه خدمات بانکی به شکل آنلاین برای مشتریان

۶. طرح پلان تداوم فعالیت به منظور استمرار فعالیت بانکی؛

در نتیجه میتوان گفت که بانک ها به عنوان واسطه های مالی، سپرده پذیر، قرضه دهنده و تسهیل کننده خدمات مالی، نقش اساسی را در اقتصاد کشورها دارند. اثرات ویروس کرونا بر فعالیت های بانکی، بیش از هر چیز وابسته به موقتی یا دائمی بودن شوک ویروس است. برای شناسائی، ارزیابی، تجزیه و تحلیل، کنترول و کاهش خطرات بانکی ناشی از ویروس کرونا باید به صورت مداوم ابزارها، مدل ها، سناریوها و آزمون های استرس مالی ( Stress testing, Var) انجام شده و نظارت دقیق تری از میزان خطر احتمالی صورت گیرد و نظر به آن اولویت بندی انجام شود. بانکها با فراهم آوری تسهیلات مالی نقش کلیدی برای عبور از بحران و حمایت بخش های اساسی اقتصاد دارند. سلامت آنها سلامت اقتصاد و بحرانی شدن آنها بحرانی شدن اقتصاد است.

منابع :

۱- حاکمیت بانکداری اروپایی (European Banking Authority ) ۲- مجمع جهانی اقتصاد( World economic forum) ۳- بانک تسویه بین المللی( Bank for international settlement)

۴- راعی، ر .و سعیدی، ع .( ۱۳۸۵ ) .مبانی مهندسی مالی و مدیریت خطرات .تهران :انتشارات سمت ۵- صادقی، سمیرا (۱۳۹۳) مدیریت خطرات . ترجمه اندروهلمز

۶- مهدیان، داود .و افشرد، احمد اسدی. (۱۳۹۳). سوء مدیریت در بانکها و مؤسسات مالی.

# د نړۍ تر ټولو بډایه ستر بانکونه

**د نړۍ هغه شل ستر بانکونه چې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د شل غوره او زیاتې شتمنۍ لرونکو بانکونو په کتار کې راغلي دي په لاندې توګه پېژندل کېږي.**




۱. د نړۍ تر ټولو لوی او بډایه بانک د چین صنعتي او سوداګریز بانک (ICBC) دی. وروستي معلوماتو ښیي چې دا بانک اوس مهال ۴۳۲۲ ملیارده ډالر شتمنۍ لري او په بازار کې یې په ټولیز ډول ۴۲۴ ملیارد ډالر پانګه اچونه کړې ده.

دا بانک په ۱۹۸۴ زیږدیز کال کې جوړ شوی دی او دا مهال له ۴۵۰ زره زیات کارکوونکي لري. د آی سي بي سي په نامه مرکزي دفتر یې د چین هېواد په پلازمېنې پیکینګ کې دی او د دې بانک تر ۷۰ سلنه زیاته برخه د چین هېواد د دولت ملکیت دی.




۲. د چین د رغونې بانک (CCB) هم د څه زیاتې سرمایې د لرلو له مخې د نړۍ دویم لوی بانک دی چې شتمني یې په روان ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې ۳۸۲۲ ملیارد امریکایي ډالرو ته رسیږي او په بازار کې یې تر ۲۰۴ ملیارد ډالرو زیاته پانګه اچونه کړې ده.

دا بانک هم د چین پر هېواد پورې تړلی دی چې په ټوله نړۍ کې ۱۴ زره نمایندګۍ لري او ۳۷۲ زره کسان په کې پر دندو بوخت دي. دا بانک په لومړیو کې د دولت له لوري د اسعارو د پېر او پلور لپاره جوړ شوی ؤ، خو وروسته بیا په سوداګریز بانک بدل شو.




۳. د چین د کرنې بانک (ABoC)، په نړۍ کې د شتمنۍ له مخې دریم لوی بانک دی. دا بانک په ۱۹۵۱ زیږدیز کال کې د ماو ژېډونګ له خوا رامنځته شو، ترڅو له ټولنیزو فارمونو، کروندګرو او کارګرو سره مرسته وکړي. اوسمهال دغه بانک د ټولې نړۍ مالي او سوداګریزو چارو ته لاره موندلې ده.

د دې بانک مرکز هم د چین هېواد په پیکینګ کې دی او په ټوله نړۍ کې شاوخوا ۲۴ زره استازولۍ لري. د دې بانک شتمني ۳۶۹۸ ملیارد ډالرو ته رسیږي او په سوداګریز بازار کې یې ۱۴۷ ملیارد امریکایي ډالره پانګه اچونه کړې ده.

»




۴. د چین بانک (Bank of China ltd)، هم د نړۍ د بانکونو څلورم ستر بانـک دی. دغه بانک په ۱۹۱۲ زیږدیز کال کې رامنځته شوی دی او له جوړښت تر دې دمه د ملي بانکوالۍ په برخه کې غوره ځای لري.

د دې بانک ۷۰ سلنه برخه د چین هېواد د حکومت ملکیت دی او د نړۍ په شلو هېوادونو کې استازولۍ لري. د معلوماتو پر بنسټ د دې بانک ټوله شتمني ۳۳۸۷ میلیارد امریکایي ډالرو ته رسیږي او په سوداګریزه نړۍ کې یې ۱۱۳ میلیارد امریکایي ډالره پانګه اچونه کړې ده.




۵. د جي پي مورګان چیس بانک (JPMorgan Chase)، د شتمنۍ لرلو له مخې د نړۍ پنځم لوی بانک دی چې د امریکا پر متحدو ایالتونو پورې اړوند دی. دا بانک په ۲۰۰۰ زیږدیز کال کې د څو بانکونو له یو ځای کېدو رامنځته شوی دی.

دا مهال د دې بانک ټوله شتمني ۳۱۳۹ میلیارد امریکایي ډالرو ته رسیږي او په سوداګریزو بازارونو کې یې ۲۹۲ میلیارد امریکایي ډالر پانګه اچونه کړې ده.




۶. د ایچ ایس بي سي بانک (HSBC Holdings plc)، د زیاتې شتمنۍ لرلو لـه مخې د نړۍ شپږم لوی بانک دی چې د برېتانیې پر هېواد پورې اړه لري. د دې بانک ټوله شتمني ۲۹۲۰ میلیارد امریکایي ډالرو ته رسیږي.

دا بانک په اصل کې د چین او برېتانیې هېواد تر منځ د اسعارو د پېر او پلور د تبادلې لپاره رامنځته شوی ؤ او لا هم دا چاره مخته وړي.




۷. د جاپان متسوبیشي بانک (Mitsubishi UFJ Financial Group)، د شتمنۍ له مـخې د نړۍ اووم لوی بانک دی. د دې بانک ټوله شتمني دا مهال ۲۸۹۰ میلیاردو امریکایي ډالـرو ته رسیږي. دا بانک په ۲۰۰۵ زیږدیز کال کې د جاپان هېواد د دوو لویو بانکـونو لـه یو ځای کېدو رامنځته شوی دی او اوس د نړۍ په څلوېښتو هېوادونو کې فعالیت لري.




۸. د امریکا بانک ( BoA )، د زیاتې شتمنۍ د لرلو له مخې د نړۍ آتم لوی بانـک دی. دا بانک د امریکا پر متحدو ایالتونو پورې تړاو لري چې پر امریکا سربېره د نړۍ په ډېر شمېر هېوادونو کې فعالیت کوي. د دې بانک ټوله شتمني ۲۶۲۰ میلیاردو امریکـایـي ډالـرو تـه رسیږي او په سوداګریز بازار کې یې ۲۰۹ میلیارد ډالر پانګه اچونه کړې ده.

»




۹. د بي ان پي بانک (BNP Paribas)، د شتمنی د لرلو له مخې د نړۍ نهم لوی بانک دی چې د فرانسې پر هېواد پورې تړا ولري. د دې بانک شتمني ۲۳۳۶ میلیارد امریکایي ډالرو ته رسېږي او په بازار کې یې ۳۹ میلیاردو امریکایي ډالرو پانګه اچونه کړې ده.




۱۰. د کریډیټ اګریکول بانک (Crédit Agricole)، د شتمنی لرلو له مخې د نړۍ لسم لوی بانک دی چې په فرانسه هېواد پورې تړاو لري. د دغه بانک شتمني دا مهال ۱۹۸۴ میلیارد امریکایي ډالره ښودل شوې ده. دا د اروپا په کچه لوی بانک دی چې د فرانسې هېواد د بانکوالۍ په برخه کې یې ستر رول لوبولی دی. د یادو لسو سترو بانکونو تر څنګ د نړۍ لس نور ستر بانکونه په لاندې توګه په لنډ ډول در پېژنو:

۱۱. سیټي ګروپ، د امریکا هېواد بانک چې شتمني یې ۱۹۱۷ میلیاردو ډالرو ته رسېږي.

۱۲. د جاپان د پوست بانک چې د جاپان هېواد ملکیت دی او شتمني یې دا مهال ۱۹۱۱ میلیارده امریکایي ډالره ده.

۱۳. ویلس فارګو، دا هم د امریکا د متحدو ایالتونو بانک دی. شتمني یې ۱۸۹۶ میلیارد امریکایي ډالر ده.

۱۴. د سیومتومو میتوسیو مالي ډلې په نامه بانک د جاپان پر هېواد پورې اړه لري چې ۱۸۴۸ میلیارده امریکایي ډالر شتمني لري.

۱۵. د مېژو مالي ډلې په نامه دا بانک هم د جاپان پر هېواد پورې اړه لري. د یاد بانک ټوله شتمني ۱۸۳۸ میلیارد امریکایي ډالر ښودل شوې ده.

۱۶. د بانکو ستندر په نامه دا بانک د هسپانیا د هېواد دی. د دې بانک شتمني ۱۶۷۱ میلیارده امریکایي ډالره ده.

۱۷. دوچ بانک، دا د جرمني هېواد بانک دی. د دې بانک شتمني ۱۵۴۴ میلیارد امریکایي ډالر ده.

۱۸. د سوسییټ جنرال په نامه د فرانسې د هېواد بانک دی چې شتمني یې ۱۴۸۵ میلیارده امریکایي ډالر ښودل شوې ده.

۱۹. د پي بي سي اي ډله، دا هم د فرانسې هېواد پورې تړاو لري. شتمني یې ۱۴۶۳ میلیارد امریکایي ډالر ده.

۲۰. د بروکلیز بانک په نامه دا بانک پر انګلینډ هېواد پورې اړه لري. د دې بانک شتمني ۱۴۴۴ میلیارده امریکایي ډالره ښودل شوې ده.

ژباړه او راټولونه●

حسیب الله نوري د نشراتو څانګې لوی آفیسر/ خبریال

---

سرچینې:

1 - TOP 20 Largest World Banks in 2020 by Total Assets/Introducing the world's TOP 20 largest banks as of 8 September 2020.
https://fxssi.com/top-20-largest-world-banks-in-current-year
2 – The Banker Ranking
https://www.thebanker.com/Banker-Data/Banker-Rankings/(offset)/10
3 - The world's 100 largest banks, 2020
https://www.spglobal.com/marketintelligence/en/news-insights/latest-news-headlines/the-world-s-100-largest-banks-2020-57854079




## تادیه الکترونیک محصول گمرکی از طریق کارت ملی پرداخت ( AfPay )




پروسهٔ اتصال سیستم تادیات افغانستان (APS) با سیستم گمرکات (اسیکودا) و د افغانستان بانک (CBS) با موفقیت به اتمام رسیده است و از این پس، تمامی دارنده گان کارت ملی پرداخت AfPay میتوانند خریداری ها، انتقال پول، تحویلی بل صرفیهٔ برق، پرداخت مالیات و محصول گمرکات، پرداخت هزینهٔ پاسپورت و سایر امور مالی خویش را با سهولت، مصونیت و حداقل هزینه، از طریق ماشین های اتومات صرافی، به شکل الکترونیک پرداخت نمایند.

د افغانستان بانک ، مصمم است تا در راستای توسعه، عصری سازی، الکترونیک سازی و ایجاد قابلیت عملیات مشترک فی مابین مؤسسات مالی، خدمات مالی را به صورت رسمی، یکسان، مصون و الکترونیک در دسترس عموم مردم قرار دهد.

اتصال سیستم اسیکودا (سیستم تخنیکی محصول گمرکی) با سیستم تادیات افغانستان (سویچ ملی پرداخت الکترونیک افغانستان) مزایای زیادی را در قبال دارد که چند مورد آنرا از قرار شرح آتی بیان می نمائیم:

- تسهیل در پرداخت فیس محصولات و مالیات گمرکی و شفافیت قابل ملاحظه در تادیه آن
- تسریع روند ترخیص کالا ها از گمرکات
- کاهش فساد و کاهش گردش و فرسایش پول نقد در افغانستان
- نقش قابل ملاحظه در ترویج فرهنگ اقتصاد غیر نقدی
- تأمین امنیت جانی و مالی تجار
- و وسیله بسیار مفید برای رسمی ساختن اقتصاد کشور



# له نمایندګۍ پرته بانکي څانګې؛

## په هېواد کې د مالي او بانکي خدمتونو د پراختیا پر لور یو ستر ګام

"کابو یوه میاشت وړاندې د افغانستان بانک، د افغانستان د بانکونو د ټولنې او د افغان پُست شرکت تر منځ داسې یو هوکړه لیک لاسلیک شو چې په پلي کېدو سره به یې بانکونه د افغان پُست شرکت په نمایندګیو کې خپلې شعبې پرانیزي او له دې لارې به د هېواد په لیرو پرتو سیمو کې بانکي او مالي خدمتونه وړاندې کوي."

له نمایندګیو پرته د بانکي شعبو او څانګو رامنځته کول، مالي او بانکي خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې لوی پرمختګونه رامځته کولای شي او له دې لارې په ټول هېواد کې د بانکي او مالي خدمتونو د پراختیا لپاره لاره پرانیستل کېږي.

افغانستان چې ډېر شمېر وګړي یې په کلیو او بانډو کې ژوند کوي او لا هم بانکي او مالي خدمتونو ته لاسرسی نه لري، د دې ډول بانکي شعبو په فعالېدو سره به دا ستونزه هواره شي او په ټول هېواد کې به مالي او بانکي خدمتونو ته د هېوادوالو لاسرسی ډېر شي.

له نمایندګیو پرته د بانکي څانګو فعالول په هغو هېوادونو کې چې ډېر شمېر وګړي یې په کلیو او بانډو کې ژوند کوي له اړینو ګامونو شمېرل کېږي. د دغه ډول شعبو په فعالولو سره د هرې طبقې خلك په بانکونو کې حسابونه پرانیستلای شي او پر مټ یې له هر ډول مالي خدمتونو برخمن کېدای شي.

دا مهال د نړۍ په ډېری هېوادونو کې له نمایندګیو پرته د بانکي شعبو خدمتونه د انټرنټ، مخابراتي شبکو، اې ټي ایم او POS ماشینونو، نمایندګانو او ګرځنده تلیفونونو له لارې تر سره کېږي چې دې

«

چارې د مالي خدمتونو د پراختيا په برخه کې ډېر پرمختګونه رامنځته کړي او يو ډېر شمېر وګړي له دې خدمتونو برخمن شوي دي.

د مالي خدمتونو پراختيا د افغانستان په شان هېوادکې چې پيچلی جغرافيايي جوړښت لري ستونزمنه چاره شمېرل کېږي، خو د دې لپاره چې بانکونه په آسانۍ سره وکولای شي دغو خدمتونو او چوپړونو ته پراختيا ورکړي له نمايندګيو پرته د بانکي شعبو رامنځته کول يوه غوره لار ده.

له نمايندګيو پرته د بانکي شعبو رامنځته کول، د بانکونو لپاره په کم لګښت تمامېږي او بانکونه اړ نه دي چې د هېواد په ټولو سيمو کې په زيات لګښت سره نمايندګۍ پرانيزي او هلته خپل کارکوونکي پر دندو وګماري.

له بلې خوا له نمايندګيو پرته د بانکي شعبو رامنځته کول د خلکو لپاره هم ډېرې آسانتياوې رامنځته کوي. هغه کسان چې انټرنټ ته لاسرسی لري او يا هم ګرځنده موبايلونه لري، کولای شي له خپل کور، کار ځای او بلې هرې سيمې څخه چې وغواړي خپلو بانکي حسابونو ته لاسرسی ومومي او د لېږد را لېږد چارې له همدې لارې تر سره کړي.

د دې ډول شعبو رامنځته کول، خلک د وخت له ضايع کېدو ژغوري او دوی کولای شي چې هره شېبه خپلو حسابونو ته لاسرسی ولري. يعنې پيسې واخلي، ډېرې کړي او يا هم پر همدغو پيسو سوداګريزې معاملې تر سره کړي. بايد ووېل شي چې لا هم د هېواد په لېرې پرتو سيمو کې د بانکي نمايندګيو د نه شتون له کبله يو شمېر هېوادوال دې ته اړ دي چې د خپلو مالي او بانکي چارو د تر سره کولو لپاره له لېرو واټنونو تر بانکي نمايندګيو لاړ شي او دوی د دغې چارې د تر سره کولو لپاره وخت ولګوي.

په وروستيو څو کلونو کې په افغانستان کې هم د مالي او بانکي خدمتونو د پراختيا لپاره يو شمېر اړين ګامونه پورته شوي دي او د هېواد په ګڼ مېشتو ښارونو کې دغو خدمتونو ته پراختيا ورکړل شوې ده. اوس داسې هڅې پيل شوې دي چې دا خدمتونه د هېواد لېرو پرتو سيمو ته هم پراختيا ومومي او ډېری هېوادوال مو له دغو خدمتونو برخمن شي.

کابو يوه مياشت وړاندې د افغانستان بانک، د افغانستان د بانکونو د ټولنې او د افغان پُست شرکت تر منځ داسې يو هوکړه ليک لاسليک شو چې په پلي کېدو سره به يې بانکونه د افغان پُست شرکت په نمايندګيو کې خپلې شعبې پرانيزي او له دې لارې به د هېواد په لېرو پرتو سيمو کې بانکي او مالي خدمتونه وړاندې کوي.

افغان پُست شرکت دا مهال د ټول هېواد په کچه ۴۵۰ نمايندګۍ لري او له دې لارې په ټول هېواد کې خدمتونه وړاندې کوي. که په يادو نمايندګيو کې د بانکونو له لوري شعبې رامنځته شي، لېرې نه ده چې پر دې سره به د هېواد په ګوټ ګوټ کې مالي او بانکي خدمتونو ته لاسرسی پيدا شي او د هغو کسانو په سلنه کې به ډېروالی راشي چې په هېواد کې له بانکي او مالي خدمتونو ګټه پورته کوي.

بايد ووېل شي چې د مالي او بانکي خدمتونو د پراختيا په برخه کې د دغه ډول هوکړه ليکونو لاسليک په سملاسي ډول لاندې ګټې له ځان سره لرلای شي:

- مالي او بانکي خدمتونو ته عامه لاسرسی او له نمايندګۍ پرته د بانکي شعبو رامنځته کېدل
- د هېواد په لېرو پرتو سيمو کې ښوونکو ته پر وخت د معاشونو رسېدنه
- په ټول هېواد کې د پورونو د ورکړې په برخه کې د آسانتياوو رامنځته کېدل او نورې آسانتياوې شاملې دي. ●

حسيب الله نوري/ د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفيسر

---

سرچينې:

(1)Banking and Finance/ How Branchless Banking is Facilitating Financial Inclusion

Author: Amrita Kundu((۱

https://habiletechnologies.com/blog/branchless-banking/

(2) عقد تفاهمنامه سه جانبه بين د افغانستان بانک، افغان پُست و اتحاديه بانکهای افغانستان بمنظور ارائه خدمات بانکی بدون نمايندگی/ ويب سايت د افغانستان بانک (۲)https://dab.gov.af/dr



# توسعۀ فردی؛ ضرورت و نیاز همه

هر نوع توسعه، ارتقاء و بهبود اعم از شخصی، سازمانی، آموزشی و سایر زمینه های دیگر وقتی به نتیجۀ مطلوب می رسد و یا هم به نحوی باعث ترقی و پیشرفت کشور می گردد که در یک چهارچوب کُلی منظم و سازماندهی‌شده برنامه‌ریزی گردد.

هر فرد یا هر نیروی کاری کشور، به توسعۀ فردی نیاز دارد. توسعۀ فردی برای بهبود عملکرد و تقویت نقاط قوت و توانایی فردی و تحقق اهداف از قبل تعیین شده مؤثر بوده و کمک می کند تا یک شخص خود و زندگی خود را بهبود بخشد.

نیروی کاری با ارتقای مهارت قبلی و افزودن مهارت جدید، حذف بعضی نقاط ضعف و بهبود عملکردش می تواند کارایی بیشتری را از خود نشان دهد و راه را برای ترقی و پیشرفت خود و کشورش هموار سازد.

«

توسعهٔ فردی یک پروسهٔ مادام العمر است، انسان می تواند در هر زمان و مکان خود را ارزیابی کرده، به دانش و داشته های خود بیافزاید و از پونتنسیل های استفاده ناشده، استفاده کند.

گرچه در حال حاضر این برنامه در میان کارکنان سازمانی بیشتر مورد استفاده قرار می گیرد، اما در سطح کُل می توان گفت که مرز میان مهارت های فردی و سازمانی وجود ندارد. این برنامه می تواند تمام جوانب زندگی یک کارمند را در بخش های زندگی شخصی، خانوادگی، تحصیلی و اجتماعی بهبود بخشد.

مفهوم توسعهٔ فردی تنها به افرادی که با سازمانها کار میکنند، اطلاق نمی گردد، بلکه شامل رشد و توسعهٔ فردی در همه عرصه های زندگی مسلکی مانند معلمی، مدیریت، محصلی، متعلمی و حتی در زندگی شخصی میتواند نقش مفید داشته باشد. هر گاه یک فرد در یک مؤسسه کار می کند و پیشرفت هایی را در عرصهٔ توسعهٔ کسب می نماید، از آن روش در زندگی فردی خود نیز استفاده کرده می تواند تا آنرا بیشتر ارتقاء دهد.

با یک نگاه کُلی به شرایط موجود در کشور به راحتی درمی یابیم که افزایش دانش منابع انسانی به نفع فرد و همه نهادهای اقتصادی بوده و در سطح کلان موجب بالا رفتن تولید ناخالص ملی کشور نیز می گردد.

مهم ترین موارد که می خواهیم بخاطر تغییر آن وارد یک برنامه شویم، اهداف ما می باشد، زیرا اهداف ما در حقیقت تعیین کنندهٔ نیازها و آرزوهای ما است. اهداف ما می تواند نقشهٔ مسیر را برای ما تعیین کند. تعیین هدف ما باعث می شود تا با شناسایی و مهارت به کسب آن رو آوریم.

برنامه های توسعهٔ فردی بهترین وسیله برای پیشرفت شغل های شخصی است، این برنامه ها می تواند انسان را در دستیابی به اهداف شغلی کوتاه مدت و دراز مدت کمک نماید. توسعهٔ فردی می تواند همه جانبه باشد و ابعاد مختلف زندگی یک فرد را مانند برنامه های ذیل در بر گیرد:

توسعه فردی شامل از بین بردن نقاط ضعف، بهبود کیفیت زندگی، افزایش مهارت های فردی، ارتقای مهارت آموزشی، ارتقای هویت، توسعهٔ استعداد، ارتقای سرمایهٔ انسانی و اشتغال یابی، تحقق آرزو ها، افزایش خود آگاهی، آشکار سازی مهارت ها، مدیریت زمان و بهبود روابط اجتماعی می باشد. افرادی که نیاز به برنامه ریزی توسعهٔ فردی دارند، افرادی اند که انگیزه ی برای تغییر دارند، افرادی که از شغل و تحصیلات خود رضایت ندارند و همچنان افرادی که به آموزش مهارت های جدید در زندگی خود نیاز پیدا می کنند.

بیشتر اقتصاد دانان جهان به این عقیده اند که نا کافی بودن معیار رشد اقتصادی و تولید نا خالص داخلی سبب شده است تا اقتصاد دانان توجه بیشتر شان را علاوه بر متغیرهای اقتصادی بر متغیر های انسانی مانند توسعه فردی نیز متمرکز سازند. •

عبدالحفیظ شاهین

---


منابع:

۱-منبع: اطلاعات شماره بهار و تابستان ۱۳۸۳/ شماره ۳۲ / عنوان: ویژگی های نیروی توسعه یافته / نویسنده گان: شریعت زاده مهدی و چیذری محمد

۲-منبع: donya-e-eqtesad.com / عنوان / توسعه منابع انسانی/ خبر روز نامه شاره ۴۰۲۷ / نویسنده رامش حقیق / تاریخ نشر ۱۳۹۶/۳/۲

۳-[]PDF sao.gov.af ‹ sites ‹ default ‹ files ‹ Interview چالش ها و راهکارها – اداره عالی تفتیش

مژگان مصطفوی معین مسلکی وزارت امور زنان

۴- منبع: خبر نگاری صدای افغان ( آوا ) کابل نویسنده سید محمد حسینی / تاریخ نشر پنجشنبه ۱۶ میزان ۱۳۸۸



# توجه به سکتور زراعت؛

## توجه به اقتصاد کشور

افغانستان مزیت های فراوانی در بخش زراعت دارد. هر چند این کشور در مقایسه با سایر کشورهای تولید کننده محصولات زراعتی، از جمله ساختار سنتی، کمبود ماشین آلات زراعتی، مصارف بالا در تهیهٔ آب، تحقیقات کاربردی در تولید و سایر موارد دارای بهره وری پائین می باشد، اما باوجود چالش ها هنوز هم بیشتر اوقات مقام های برتر را در تولید زعفران، پسته، انگور، انار و سایر محصولات زراعتی کسب کرده است.

»



یکی از راه های مهم مبارزه با مشکلات موجود در بخش زراعت، تولید سازگار با محیط زیست است که در این عرصه قابلیت های فراوانی وجود دارد. بطور نمونه بالا بردن عملکرد تولیدات زراعتی بدون آسیب رساندن به محیط زیست و اصلاح زرع و کشت نباتات که می توانند فُرصت های خوبی را برای سرمایه گذاران در این بخش به وجود بیاورد.

موضوع مهم دیگر در این عرصه عبارت از حل مشکلات بازار و بازاریابی برای عرضه و تقاضای محصولات زراعتی کشور است که اگر اهمیت آن از بخش تولید بیشتر نباشد، کمتر هم نیست.

از محصولات زراعتی تولیدات خوبی بدست می آید، اما اگر برای تولیدات بازار مناسب وجود نداشته باشد و بازاریابی خوب صورت نگیرد، تولید کنندگان محصولات زراعتی فایدهٔ چندانی از تولیدات خود نبرده و اکثراً با زیان روبرو خواهند شد.

از اینرو، نکتهٔ مهمی که باید قبل از تولید محصولات زراعتی کشور به آن توجه نمود، عبارت از داشتن ستراتیژی های مناسب برای بازاریابی خرید و فروش محصولات زراعتی است. همچنان در بحث بازاریابی موضوع قیمت، مکان خوب و مناسب و نام تجاری از اهمیت قابل ملاحظهٔ برخوردار می باشد.

یکی از مشکلاتی که تولیدات زراعتی افغانستان به آن دست و گریبان می باشد، عدم توجه به ابزارهای مختلف برای محصولات زراعتی است. افغانستان در بخش های مختلف زراعتی فاقد تنوع بوده و یک شیوهٔ جامع و شناخته شده در بازار ندارد. هر چند در این مورد برای ثبت برندهای ملی و بین المللی سعی و تلاش ها صورت گرفته است، لیکن توجه بیشتر مسئولین را در این راستا می طلبد تا بر اساس آن روی کیفیت خوب، بسته بندی مناسب، تنوع محصول و تبلیغات بهتر و بیشتر روی دست گرفته شود.

مکان عرضهٔ محصولات زراعتی نیز یکی از عوامل مهم برای معرفی و بازاریابی تولیدات و محصولات زراعتی است. بناءً از آنجا که موجودیت خُرده و عمده فروشی های متنوع برای توزیع این محصولات در بخش توزیع از جمله راه های بازاریابی می باشد، باید به آن توجه بیشتر گردد.

یکی از ابزاری دیگری که می تواند در بازاریابی محصولات زراعتی کمک کند، عرضهٔ محصولات جدید در نمایشگاه ها است که باعث معرفی محصولات زراعتی کشور در جهان می گردد. معرفی و ارائه معلومات در مورد محصولات مطابق با نیاز های مصرف کنند گان بهترین کلید موفقیت در دنیای پُر از رقابت در بازار های داخلی و خارجی می باشد.

موضوع بازسازی کانال های آبیاری و توزیع تخم های اصلاح شده و ادویه های ضد آفات نباتات از برنامه های دیگریست که در اولویت برنامه های وزارت زراعت کشور قرار دارد تا در جریان دو سال آینده ۱۸۰ کانال آبیاری را بازسازی نماید و بیش از ۸۵ هزار هکتار زمین را زیر کشت قرار دهد.

افغانستان که سالانه بیشتر از یک و نیم میلیون تُن گندم از خارج وارد می کند، برای قطع این روند لازم است تا زمین های زراعتی آبی افزایش یافته و با افتتاح این پروژه ها افغانستان برای نیل به خود کفایی در بخش آرد و گندم و محصولات دیگر زراعتی نزدیکتر شود.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱. https://www.darivoa.com/a/agree-culture-Afghanistan-food/۵۵۹۹۳۸۱.html عنوان : آغاز پروژهٔ اضطراری زراعت و مصوونیت غذایی در افغانستان تاریخ نشر : ۶ / ۷/ ۱۳۹۹

۲. www.mail.gov.af/ وزارت زراعت، آبیاری و مالداری

۳. www.worldbank.org › country › afghanistan ›ظرفیت های بالقوه سکتور زراعت میتواند در رُشد اقتصاد افغانستان.

